**د اسلامي همکاریو سازمان: اسلامي امت دې نور خپل اعتراضونه پای ته ورسوي او مسجد الاقصی دې هېر کړي!**




**خبر:**

د اسلامي همکاریو سازمان د جمعې په ورځ د ترکیې په استانبول ښار کې په خپله وروستۍ ناسته کې یو ځل بیا د فلسطینیانو پر نړیوال ملاتړ ټینګار وکړ او بیت المقدس ته یې د نورو هېوادونو د سفارتونو د انتقال د منع کولو په موخه جدي اقدامات یوه اړتیا وګڼله. همداراز یې د فلسطینیانو پر وړاندې د اسرائیلو د جنایتونو د مخنیوي په موخه بیت المقدس ته د نړیوالو ځواکونو د لېږلو غوښتنه وکړه. په پای کې رجب طیب اردغان وویل، چې اسلامي امت به په دې برخه کې لازم ګامونه پورته کړي.

**تبصره:**

په دغه کنفرانس کې د هغو اسلامي خاورو مشرانو ګډون درلود، چې له یوه سیاسي حزب څخه -چې د احتجاج په موخه لاریونونه تنظیم، اعلامیې او پرېکړه لیکونه صادر کړي- زیات امکانات لري. هغوی ستر، زړور او په مډرنو تجهیزاتو سمبال پوځونه او منظمه بودیجه په واک کې لري. دغه ظالم چارواکي هر یو لکه: اردغان د خپلو مسلمانو رعیتونو په ځپلو سربېره د امریکا په فرمان خپل پوځ د سوریې د سیکولر نظام د ساتنې او د انقلابیانو د ځپلو لپاره سوریې ته لېږلی. سعودي او خلیجي هېوادونو د امریکا او انګلیس په امر خپلې لښکرې یمن ته لېږلې دي، تر څو د خپلو بادارنو ګټې وساتي. ایران خپل پوځ د روسیې او ترکیې په همغږۍ له امریکا سره د همکارۍ په موخه د عراق او سوریې جبهو ته استولی دی. همدارنګه پاکستان -یوازینۍ اسلامي خاوره چې اتومي ځواک لري- خپل پوځ یې د مسلمانانو د ځپلو لپاره په کشمیر کې د یرغلګر هند له پولې څخه له افغانستان سره خپلې پولې ته لېږلی، تر څو امریکا ضد جنګیالي وځپي. مصر خپل پوځ د اسراییلو د امنیت د ټینګښت لپاره په سینا کې پر جګړه بوخت کړی او د امریکا د ګټو د خوندي کولو لپاره یې د لیبیا په جګړه کې ښکېل کړی دی. د اردن پوځ هم د اسراییلو د ملاتړ لپاره په صحنه کې د اسراییلو پر جنایتونو د زور او ناحقه شاهد په توګه کارول کېږي.

مگر دوی هېڅ یو د اوسني امریکایي نړیوال نظم پر خلاف فلسطین ته د پوځونو د لېږلو او د مسجدالاقصی د آزادۍ جرئت او غیرت ونه کړ، بلکې فلسطین ته یې د نړیوالو ځواکونو د استولو غوښتنه وکړه. دوی نه خپلې اړیکې له امریکا او اسراییلو سره په دایمي ډول پرې کوي او نه هم د امریکا اډې په خپلو خاورو کې بندوي؛ بلکې د لنډ مهال لپاره اسرائیلي سفیر وباسي. د تاریخ په دې حساسه شېبه کې د دغو بزدلانو ماموریت دا دی، ترڅو د دغو بېمعنی او بېهدفو غونډو او پوچو ویناوو په وسیله تر هغه مهاله چیغې او نارې وکړي، چې بااحساسه مسلمانان د تظاهراتو او اعتراضونو له ډگرونو خپلو کورونو ته ستانه کړي او په پایله کې د امت راپارېدلی قهر او غضب مړ کړي.

دوی ته د ستر طاغوت (معمر القذافي) برخلیک ورپه یادوو، چې هغه هم د یهودو پر ضد د مسلمانانو میلیوني غونډې ته وینا کوله؛ مگر د لیبیا پوځ یې د بریتانیا په دستور د جگړې لپاره چاد ته لېږه. خو کله چې د امت د صبر کاسه ډکه شوه او د امت غضب دغه ستر طاغوت را چاپېر کړ، نور یې هېڅ بادار ونه شو کولای هغه وژغوري. په داسې حال کې د منتقم او جبار الله غضب تر دې ستر او دوامدار دی. تاسو هم د داسې ورځې انتظار وکړئ؛ څکه تاسو هم په استانبول کې یو ځل بیا گرم او غوړ خوراکونه نوشجان او په بیت الخلا کې مو دفع کړل؛ پر دې سربېره د هغې ژرندې په څېر یاست، چې غړ یې ټوله سیمه په سر اخیستې؛ خو اوړه یې درک نه لري.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**